دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## په‌افغانستان‌کې‌د یونسکو دملي کمېسیون‌اساسنامه

## اساسنامۀ کمیسیون‌ملی یونسکو درافغـــانستان

دخپرېدونېټه: د۱۳۹۵هــ.ش کال دزمري دمياشتې (۱۱)
پرله پسې نمبر:(۱۲۱۸)

تاريـــخ نشـــر: (۱۱) اسد سال ۱۳۹۵ هــ . ش
نمبر مسلسل: (۱۲۱۸)

| | |
|---|---|
| **د امتیــاز خاوند:** | دعدلیــې وزارت |
| **مسئول چلوونکی:** | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| **د دفتر تیلفون:** | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| **مرستیال:**نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| **مهتمــم:**محمد جان | ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲ |
| **وب سایت:** | www.moj.gov.af |

**قیمت:** (۷/۲)افغانی

**تیراژ چاپ:** (۱۰۰۰)جلد

**تعداد صفحات به شمول پشتی:** (۳۰)صفحه

**مطبعه:** صــــــدف

**آدرس:وزارت عــدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل**

**په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمېسیون داساسنامې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس حکم**

ګڼه: (۹۲۴)

نېټه: ۲۱/ ۳/ ۱۳۹۵

**لومړۍ ماده:**

په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمېسیون اساسنامه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۱/ ۲/ ۱۳۹۵نېټې په (۳) ګڼه مصوبه کې په (۳) فصلونو او (۱۹) مادوکې تصویب شوې ده، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم، اړونده مصوبه او د یادشوې اساسنامې متن د تصویب له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد اساسنامۀ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان**

شماره: (۹۲۴)

تاریخ: ۱۳۹۵/۳/۲۱

**مادۀ اول:**

اساسنامۀ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان را که در مصوبه شماره (۳) مؤرخ ۱۳۹۵/۲/۱۱ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان در (۳) فصل و (۱۹) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

این حکم، مصوبۀ مربوطه و متن اساسنامۀ مذکور از تاریخ تصویب نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمېسیون د اساسنامې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

ګڼه: (۳)

نېټه: ۱۱/ ۲/ ۱۳۹۵

په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمېسیون اساسنامه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۱/ ۲/ ۱۳۹۵نېټې په (۳) ګڼه مصوبه کې په (۳) فصلونو او (۱۹) مادو کې تصویب شوه.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد اساسنامهٔ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان

شماره: (۳)

تاریخ: ۱۳۹۵/۲/۱۱

اساسنامهٔ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان، در مصوبه شماره (۳) مؤرخ ۱۳۹۵/۲/۱۱ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در (۳) فصل و (۱۹) ماده تصویب گردید.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

# فهرست مندرجات

## اساسنامهٔ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۷ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۷ |
| مادهٔ سوم: | نام اختصاری | ۸ |
| مادهٔ چهارم: | شخصیت | ۸ |
| مادهٔ پنجم: | محل فعالیت | ۹ |
| مادهٔ ششم: | اهداف استراتیژیک | ۹ |
| مادهٔ هفتم: | مسئولیت اجرایی | ۱۰ |


## فصل دوم

## تشکیل و وظایف کمیسیون


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ هشتم: | تشکیل کمیسیون | ۱۱ |
| مادهٔ نهم: | وظایف کمیسیون | ۱۱ |
| مادهٔ دهم: | شورای عالی | ۱۴ |
| مادهٔ یازدهم: | وظایف شورای عالی | ۱۵ |
| مادهٔ دوازدهم: | شورای اجرائیه | ۱۷ |
| مادهٔ سیزدهم: | وظایف شورای اجرائیه | ۱۸ |
| مادهٔ چهاردهم: | هماهنگی | ۱۹ |
| مادهٔ پانزدهم: | تشکیلات دارالانشاء | ۲۰ |

مادۀ شانزدهم: وظایف دارالانشاء........................................۲۰
مادۀ هفدهم: بودجه کمیسیون..........................................۲۳

## فصل سوم

## احکام نهایی

مادۀ هجدهم: معیار و شرایط استخدام...............................۲۳
مادۀ نزدهم: انفاذ......................................................۲۶

## په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمېسیون اساسنامه

سریزه:

د ملگرو ملتونو ښــوونيز، علمـــي او فرهنگي سازمان(یونسکو)، د ملگـــرو ملتونو په سازمان پـــورې لـــه تړلـــو تخصصي سازمانونو څخه يو دی چې په ۱۹۴۵ میلادي کال کې تأسیس شو. د یونســکو د ســازمان غـــړي د ۱۹۵ هېوادونو په حدودو کې دي او مقـــر یې د فرانسې هېواد په پلازمېنه د پاریس په ښار کې دی او په نورو هېوادونو کې د دفترونو او بېلا بېلو نمایندگیو لرونکی دی. د یونسکو د سازمان له تأســیس څخه موخه عبارت ده لـــه "عـــدالت، قانون مداری او د بشر حقوقو ته د درۀ ناوي د زيـــاتوالي پـــه منظـــور، پـــه زده کړه ییزو، علمي او فرهنگي برخو کې، د بین المللي همکاریو له لارې، د سولې او نړیوال امنیـــت د بهیـــر پـــه مرسته،" د ملگرو ملتونو د ســـازمان د منشور پر پایې ولاړ دی. د افغانســـتان

## اساسنامۀ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان

مقدمه:

سازمان تعلیمی، علمـــی وفرهنگـــی ملـــل متحـــد (یونســـکو)، یکـــی از سازمان های تخصصی وابسته بـــه سازمان ملـــل متحـــد اســـت کـــه درسال۱۹۴۵ میلادی تأسیس شـــد. اعضای سازمان یونسکو حدود ۱۹۵ کشـــور بـــوده و مقـــر آن در شـــهر پاریس پایتخت کشور فرانسه قراردارد ودارای دفاتر و نمایندگی های مختلف در سایرکشورها می باشـــد. هـــدف ازتأسیس سازمان یونســـکو، عبـــارت است از "کمک به فراینـــد صـــلح و امنیت جهانی، از طریق همکاری های بین‌المللی، در زمینه‌هـــای آموزشـــی، علمـــی و فرهنگـــی، بـــه منظـــور افزایش احترام به عدالت، قانون‌مداری و حقوق بشـــر" بـــر پایـــه منشـــور سازمان ملـــل متحـــد مـــی باشـــد. دولت جمهـــوری اسلامـــی افغانستان

اسلامي جمهوري دولت پـه ۱۹۴۸ میلادي کال کې د یونسکو غړیتـوب ترلاسه کړی دی.

د ملګرو ملتونو د روزنیز، علمـي او فرهنګي سازمان(یونسکو) د اساسنامې د اوومې مادې له مخې، چې په هغې کې یې غړو دولتونو ته په ملي سـطحه د یونسکو د ملي کمېسیون د جوړولـو اجازه ورکړې ده. ملي کمېسیونونه د یونسکو د سازمان د مقرراتو پر بنسټ، خپله اساسنامه ترتیب او وضع کوي.

د افغانستان د یونسکو ملي کمېسیون له دې اصل څخه په پیروۍ اساسنامه یـې په دریو فصلونو او نولسو مادو کـې برابره او ترتیب کړې ده.

در سال ۱۹۴۸میـــــلادی عضویت یونســـکو را حاصـــل نمـــوده است.

به تأسـی از مادهٔ هفـتم اساسـنامهٔ سازمان تربیتی، علمـی و فرهنگـی ملل متحـد (یونسکو)، کـه در آن اجازه تشکـیل کمیسیون ملی یونسکو را در ســطح ملـــی برای دولت های عضو، داده است کمیسیون های ملـــی به اساس مقـررات ســازمان یونسکو، اساسنامه خویش را ترتیب و وضع می نماینـد. کمیســیون ملـی یونسکوی افغانستان به پیروی از ایـن اصل اساسنامه را در سه فصل و نزده ماده تهیه و ترتیب نموده است.

## په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمېسیون اساسنامه

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه اساسنامه د ښوونیز، علمي او فرهنګي نړیوال سازمان(یونسکو) د منشور د اوومې مادې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې اساسنامې موخې عبارت دي له:

۱- د یونسکو د برنامو او د افغانستان اسلامي جمهوریت د ښوونیزې او روزنیزې پالیسۍ تطبیق، همغږي او څارنه.

۲- د وطن والۍ د مسئولیت او د یونسکو د ستراتیژیکو موخو پر بنسټ د ملي فرهنګ، زده کړې، پالنې او د سولې د فرهنګ پراختیا.

## اساسنامهٔ کمیسیون ملی یونسکو در افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این اساسنامه به تأسی از حکم مادهٔ هفتم منشور سازمان جهانی تعلیمی، علمی و فرهنگی (یونسکو) وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم :**

اهداف این اساسنامه عبارت اند از:

۱- تطبیق، هماهنگی و نظارت از برنامه های یونسکو وپالیسی های تعلیمی و تربیتی جمهوری اسلامی افغانستان.

۲- توسعه فرهنگ ملی، آموزش، پرورش و فرهنگ صلح براساس مسئولیت شهروندی و اهداف ستراتیژیک یونسکو.

۳- له یونسکو سره د ادارو او دولتي او نا دولتي سازمانونو تر منځ د اړیکو تأمینول.

۴- د زده کړه ییزو پروګرامونو او د علمي او فرهنګي څېړنو په تنظیم کې د اړوندو بنسټونو د ونډې اخیستنې د زمینې برابرول.

۵- د فرهنګ د خپرېدو او دعمومي زده کړې په کار کې د متقابل تفاهم د رامنځته کېدو او د سولې د ټینګښت په منظور، د یونسکو په فعالیتونو کې د ګډون (مشارکت)لپاره دزمینې برابرول.

لنډ نوم

درېیمه ماده:

په افغانستان کې د یونسکو ملي کمېسیون، په دې اساسنامه کې له دې وروسته د کمېسیون په نوم یادېږي.

شخصیت

څلورمه ماده:

کمېسیون د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د حقوقي او په یونسکو پورې د تړلي شخصیت په توګه، د

۳- تأمین ارتباط میان ادارات و سازمان های دولتی و غیر دولتی، با یونسکو.

۴- فراهم نمودن زمینه سهم گیری نهاد های ذیربط در تنظیم پروگرام های آموزشی و تحقیقات علمی و فرهنگی.

۵- فراهم نمودن زمینه برای مشارکت در فعالیت های یونسکو به منظور ایجاد تفاهم متقابل و استقرار صلح در امر نشر فرهنگ و آموزش عمومی.

نام اختصاری

مادۀ سوم:

کمیسیون ملی یونسکو درافغانستان در این اساسنامه منبعد به نام کمیسیون یاد می شود.

شخصیت

مادۀ چهارم:

کمیسیون به حیث شخصیت حقوقی، و وابسته به یونسکودرجمهوری اسلامی افغانستان مطابق احکام قانون اساسی

اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو او د یونسکو د ستراتیژیک منشـور او موخو د رعایتولو او ددې اساسنامې د حکمونو مطابق، فعالیت کوي.

## د فعالیت ځای

**پنځمه ماده:**

د کمېسیون مرکزي دفتر د پوهنې پـه وزارت کې رامنځتـه او د مشـورتي، ارتباطي او اطلاعاتي چـارو د تنظـیم لپاره، فعالیت کوي.

## ستراتیژیکې موخې

**شپږمه ماده:**

یونسکو د لاندې ستراتیژیکو موخـو لرونکې ده:

۱- د وطنوالو د اساسي حق په عنوان د زده کړې تعمیم، له بېلا بېلـو لارو څخه د زده کړې د کیفیت ښه والی، د علمي تجربو د سطحې لـوړول، د زده کړې په ساحه کې له نوښتونو څخـه ملاتړ او د اطلاعاتو د مشارکت پراختیا او د علمي مبحثونـو د دایرولـو پـه منظور، د تدبیرونو نیول.

وسـایرقوانین ورعایـت منشـور و اهـداف سـتراتیژیک یونسـکو و احکـام ایـن اساسـنامه فعالیـت می نماید.

## محل فعالیت

**مادهٔ پنجم:**

دفتر مرکـزی کمیسـیون دروزارت معارف ایجاد وبـرای تنظـیم امـور مشورتی، ارتباطی و اطلاعاتی، فعالیت می نماید.

## اهداف ستراتیژیک

**مادهٔ ششم:**

یونسکودارای اهداف ستراتژیک زیـر می باشد:

۱- تعمیم آموزش بـه عنـوان حـق اساسی شهروندان، بهبـود کیفیـت آمـوزش از طرق مختلف، ارتقای سـطح تجارب علمـی، حمـایت از ابتکارات درساحهٔ آموزش و گسترش مشارکت اطلاعات و اتخـاذ تـدابیر بـه منظـور تـدویر مباحثـات علمی.

۲- په ټولنه کې علمي او د تکنالوژۍ پراختیا، د علمي ظرفیتونو پیاوړتیا او غنامندي او د اخلاقي او روزنیزو ارزښتونو پیاوړي کول.

۳- د فرهنګ لوړول، د فرهنګي میراث او تنوع خوندیتوب او د علم او پوهې په ترلاسه کولو کې د ظرفیت جوړونې او مشارکت له لارې پراختیا او د فرهنګونو ترمنځ د اړیکو پیاوړي کول او غنامندي.

## اجرایي مسئولیت

اوومه ماده:

کمېسیون، د هغو پروژو د پیشنهاد د وړاندې کولو مسئولیت چې د وزارتونو او اړوندو ادارو لخوا وړاندې کېږي او د یونسکو د مشارکت تر پروګرام لاندې وي، پر غاړه لري.

۲- توسعهٔ علمی و تکنالوژی، تقویت وغنامندی ظرفیت های علمی وارتقای ارزش های اخلاقی و تربیتی درجامعه.

۳- ارتقاء فرهنگ، صیانت از میراث و تنوع فرهنگی، تقویت وغنامندی ارتباط میان فرهنگ ها و توسعه از طریق ظرفیت سازی و مشارکت در کسب علم و دانش.

## مسئولیت اجرایی

مادهٔ هفتم:

کمیسیون، مسئولیت ارائه پیشنهاد پروژه های را که ازطرف وزارت ها وادارات ذیربط ارائه می گردد وتحت پروگرام مشارکت یونسکو قرار داشته به عهده دارد.

## دوه یم فصل

## د کمېسیون تشکیل او دندې

### د کمېسیون تشکیل

**اتمه ماده:**

کمېسیون په لاندې ترکیب سره رامنځته کېږي:

۱- عالي شوري.

۲- اجرائیه شوري.

۳- دارالانشاء.

### د کمېسیون دندې

**نهمه ماده:**

(۱) کمېسیون د لاندې دندو لرونکی دی:

۱- د مشارکت تر پروګرام لاندې د یونسکو د سازمان د مصوبو پروژو تطبیق.

۲- د کتابونو، اعلامیو، کلنیو رپوټونو او د یونسکو د نورو سندونو په شان د خپرندویه برنامو طرحه، په هېواد کې د کنفرانسونو او د نندارتونونو جوړول.

## فصل دوم

## تشکیل ووظایف کمیسیون

### تشکیل کمیسیون

**مادهٔ هشتم:**

کمیسیون به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- شورای عالی.

۲- شورای اجرائیه.

۳- دارالانشاء.

### وظایف کمیسیون

**مادهٔ نهم:**

(۱) کمیسیون دارای وظایف ذیل می باشد:

۱- تطبیق پروژه های مصوب سازمان یونسکو تحت پروگرام مشارکت.

۲- طرح برنامه های نشراتی ازقبیل کتب، اعلامیه ها، گزارش های سالانه و سایر اسناد یونسکو، برگزاری کنفرانس ها وتشکیل نمایشگاه ها درکشور.

۳- په هغو سکتوري وزارتونو پورې د اړوندو برنامو او پروژو په طرحه کې همکاري چې د یونسکو لخوا منل شوې دي.

۴- سکتوري وزارتونو ته د مرستندویه فعالیتونو او برنامو له اجراء څخه، یونسکو ته د رپوټ وړاندې کول.

۵- د یونسکو او سکتوري وزارتونو، اړوندو دولتي او نا دولتي ادارو د موخو او پالیسۍ مطابق، د لنډ مهاله او اوږدمهاله پلانونو برابرول.

٦- په بین المللي کنفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو کې د سکتوري وزارتونو د هیئت د غوراوي او ګډون په کار کې اسانتیا او اغېزمنه همغږي.

۷- د یونسکو په تعلیمي او تحصیلي پروګرامونو کې له ذیدخلو دولتي ادارو سره سلا مشوره.

۸- د یونسکو په غړو هېوادونو په ځانګړي ډول د سیمې په هېوادونو کې له ښوونیز، علمي او فرهنګي ملي کمېسیونونو سره همکاري او د ګډو

۳- همکاری درطرح برنامه ها وپروژه های مربوط به وزارت های سکتوری که ازطرف یونسکو پذیرفته شده است.

۴- ارایه گزارش به یونسکو ازاجرای فعالیت ها وبرنامه های مساعدتی به وزارت های سکتوری.

۵- تهیه پلان های کوتاه مدت وطویل المدت مطابق اهداف وپالیسی یونسکو ووزارت های سکتوری، ادارات دولتی و غیر دولتی ذیربط.

٦- تسهیل و هماهنگی موثر در امر انتخاب و اشتراک هیئت وزارت های سکتوری درکنفرانس ها، سمینارها و ورکشاپ های بین المللی.

۷- مشوره با ادارات دولتی ذیدخل در پروگرام های تعلیمی و تحصیلی یونسکو.

۸- همکاری با کمیسیون های ملی تعلیمی، علمی وفرهنگی درکشورهای عضو یونسکو، بخصوص کشورهای منطقه و انجام

پروژو ترسره کول.

۹- د هېواد له وزارتونو او تعلیمي، تحصیلي او فرهنګي مؤسسو سره د زده کړې د تعمیم لپاره، همکاری او له بې سوادۍ سره مبارزه ، فرهنګي بسط او پراختیا او له یونسکو او په هغې پورې له تړلو مؤسسو سره همکاري.

۱۰- د لاندې مواردو د تحقق په منظور، د تدبیرونو نیول:

- د عدالت، د اتباعو د ازادۍ او اساسي حقوقو تأمین او د بشر د حقوقو د اعلامیو او د یونسکو د موخو په پام کې نیول.

- په ټولنه کې د زده کړې د فرهنګ د سطحې لوړول او له بې سوادۍ سره مبارزه.

- د بشري ټولنو د فرهنګ پېژندل او د افغانستان د فرهنګ او فرهنګي میراثونو معرفي کول.

- د پوهې د زده کړې، فرهنګ، اړیکو، د عمومي هوساینې ملاتړ او د پیاوړي کولو په عرصه کې پر ګډو ارزښتونو باندې د ولاړو نړیوالو اصولو

پروژه های مشترک.

۹- همکاری با وزارت ها و مؤسسات تعلیمی، تحصیلی و فرهنگی کشور جهت تعمیم آموزش و مبارزه با بی سوادی، بسط و توسعه فرهنگی و همکاری با یونسکو و مؤسسات وابسته به آن.

۱۰- اتخاذ تدابیر به منظور تحقق موارد ذیل:

- تأمین عدالت، آزادی وحقوق اساسی اتباع و رعایت اعلامیه های حقوق بشر و اهداف یونسکو.

- ارتقای سطح فرهنگ آموزش و مبارزه با بی سوادی در جامعه.

- شناخت فرهنگ جوامع بشری و معرفی فرهنگ ومیراث های فرهنگی افغانستان.

- توسعه و ارتقاء اصول و قواعد جهانی مبتنی بر ارزش های مشترک در عرصهٔ آموزش علم، فرهنگ، ارتباطات، حمایت و تقویت

او قواعدو پراختيا او پياوړتيا.
- د فرهنګي ميراثونو د په رسميت پېژندلو او خونديتوب له لارې د کثرت ګرايي لوړول او پراختيا.
- د ظرفيت جوړونې او دپوهې دترلاسه کولو په منظور، داتباعو د متوازنې لاس رسی له لارې د ټولنې په پرمختګ کې دمشارکت د سطح لوړول.
(۲) اجراء کوونکي بنسټونه مکلف دي، د پروژې د اجراء مالي رپوټ د کمېسيون دارالانشاء ته وړاندې کړي.

## عالي شوري

**لسمه ماده:**

عالي شوري جوړه ده له:
۱- د پوهنې وزير د رئيس په توګه.
۲- د لوړو زده کړو وزارت معين د غړي په توګه.
۳- د بهرنيو چارو وزارت معين د غړي په توګه.
۴- د عدليې وزارت معين د غړي په توګه.
۵- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معين

رفاه عمومی.
- ارتقاء و گسترش کثرت گرایی از طریق به رسمیت شناختن و صیانت از میراث های فرهنگی.
- ارتقای سطح مشارکت در پیشرفت جامعهٔ از طریق دسترسی متوازن اتباع، به منظور ظرفیت سازی و فراگیری دانش.
(۲) نهاد های اجراء کننده مکلف اند، گزارش مالی اجرای پروژه را به دارالانشای کمیسیون ارایه نمایند.

## شورای عالی

**مادهٔ دهم:**

شورای عالی متشکل است از:
۱- وزیر معارف به حیث رئیس.
۲- معین وزارت تحصیلات عالی به حیث عضو .
۳- معین وزارت امور خارجه به حیث عضو.
۴- معین وزارت عدلیه به حیث عضو.
۵- معین وزارت اطلاعات وفرهنگ

د غړي په توګه.

۶- د ښځو چارو وزارت معين د غړي په توګه.

۷- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسيون رئيس د غړي په توګه.

۸- د کابل پوهنتون رئيس د غړي په توګه.

۹- د دولتي پوهنتونونو د علمي هيئت د غړو، د هغو خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسو له منځ څخه چې د ټولنيزو او بشري علومو، فرهنګ يا طبيعي علومو او ښوونې او روزنې په برخو کې د تجربو لرونکي وي، د هېواد له علمي او فرهنګي وتلو شخصيتونو څخه دوه تنه د غړو په توګه.

۱۰- د کمېسيون سکرتر جنرال د منشي په توګه.

## د عالي شوري دندې

**يوولسمه ماده:**

(۱) عالي شوري د لاندې دندو لرونکې ده:

به حيث عضو.

۶- معين وزارت امور زنان به حيث عضو.

۷- رئيس کميسيون مستقل حقوق بشرافغانستان به حيث عضو.

۸- رئيس پوهنتون کابل به حيث عضو.

۹- دوتن ازشخصيت های برجستهٔ علمی وفرهنگی کشورازميان اعضای هيئت علمی پوهنتون های دولتی، مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی که درزمينه های علوم اجتماعی وبشری، فرهنگ يا علوم طبيعی وتعليم وتربيه دارای تجربه باشند به حيث اعضاء.

۱۰- سکرترجنرال کميسيون به حيث منشی.

## وظايف شورای عالی

**مادهٔ يازدهم:**

(۱) شورای عالی دارای وظايف زير می باشد:

۱- سکتوري وزارتونو او موسسو ته د محول شوو فعالیتونو او برنامو د ترسره کولو لپاره، د کمېسیون د کړنلارې او اصلي برنامو او د یونسکو سازمان د عمومي فعالیتونو تصویبول.

۲- د کمېسیون د کلنیو فعالیتونو د رپوټ اورېدل او تصویب چې د کمېسیون د دارلانشاء له خوا برابر او وړاندې کېږي.

۳- د هغهٔ اعزامي هیئت د غړو تأیید چې له افغانستان څخه په نمایندګۍ د یونسکو په عمومي کنفرانس یا نورو اړوندو بین المللي مهمو کنفرانسونو کې ګډون کوي.

۴- د کمېسیون د ستراتیژۍ، پالیسۍ او برنامو تصویب.

۵- د کمېسیون او د نورو هېوادونو د ملي کمېسیونونو ترمنځ د همکارۍ د زمینې برابرول.

۶- د موقوتو خپرندویه او د کمېسیون د نورو خپرونو په باره کې د نظر څرګندول او د هغو پراختیا او د بشپړېدو لپاره برنامه جوړول.

۱- تصویب طرزالعمل وبرنامه های اصلی کمیسیون وفعالیت های عمومی سازمان یونسکو، برای فعالیت ها وانجام برنامه های محول شدهٔ وزارت ها ومؤسسات سکتوری.

۲- استماع وتصویب گزارش فعالیت های سالانهٔ کمیسیون که از طرف دارالانشای کمیسیون تهیه و ارائه می گردد.

۳- تائید اعضای هیئت اعزامی که به نمایندگی از افغانستان به کنفرانس عمومی یونسکویا سایرکنفرانس های مهم بین المللی مرتبط اشتراک می نمایند.

۴- تصویب ستراتیژی، پالیسی و برنامه های کمیسیون.

۵- مساعد ساختن زمینه همکاری میان کمیسیون وکمیسیون های ملی سایر کشورها.

۶- اظهارنظردربارهٔ گاهنامه های نشراتی و دیگر نشرات کمیسیون و برنامه ریزی جهت توسعه و تکمیل آنها.

(۲) د عالي شوري غونډې په کال کې یو ځل جوړیږي.

اجرائیه شوري

دوولسمه ماده:

(۱) اجرائیه شوري له لاندې اشخاصو څخه جوړه ده:

۱- د کمېسیون سکرتر جنرال د رئیس په توګه.

۲- د بهرنیو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

۳- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت استازی د غړي په توګه.

۴- د پوهنې وزارت استازی د غړي په توګه.

۵- د لوړو زده کړو وزارت استازی د غړي په توګه.

۶- د ښځو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

۷- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون استازی د غړي په توګه.

۸- د ښوونیز، روزنیز، اطلاعاتي،

(۲) جلسات شورای عالی سال یک بار دایر می گردد.

شورای اجرائیه

مادهٔ دوازدهم:

(۱) شورای اجرائیه مرکب از اشخاص زیر می باشد:

۱- سکرترجنرال کمیسیون بحیث رئیس.

۲- نماینده وزارت امور خارجه بحیث عضو.

۳- نماینده وزارت اطلاعات وفرهنگ بحیث عضو.

۴- نماینده وزارت معارف بحیث عضو.

۵- نماینده وزارت تحصیلات عالی بحیث عضو.

٦- نمایندهٔ وزارت امور زنان بحیث عضو.

۷- نماینده کمیسیون مستقل حقوق بشرافغانستان بحیث عضو.

۸- پنج تن ازمتخصصین رشته های

فرهنگي او ارتباطي رشتو له متخصصينو څخه پنځه تنه د غړو په توگه.

(۲) اجرائيه شوري په هرو دريو مياشتو کې يو ځل غونډه کـوي د اجرائيـه شوري د غونډو د دايرولو نصاب د هغو له غړو څخه لږ تر لږه د شپږو تنو پـه حضور بشپړ او د هغـو تصـميمونه د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت سـره نيول کېږي.

د اجرائيه شوري دندې

ديارلسمه ماده:

اجرائيه شوري د لاندې دندو لرونکې ده:

۱- عالي شوري، اړوندو وزارتونـو، دولتي او نا دولتي مؤسسو ته د پيشنهاد وړاندې کول، په برنامـه ريـزي، د يونسکو په بين المللي، سيمه ييـزو او ملي برنامو او د فعاليتونو په اجـراء او ارزونه کې گډون.

۲- د يونسکو د تصميمونو د ا جراء په اړه د دولت د نظرياتو او وړانـديزونو پيگيري چې اجرائيه شوري ته سـپارل

تعليمی، تربيتی، اطلاعاتی، فرهنگـی وارتباطی بحيث اعضاء.

(۲) شـورای اجرائيـه هرسـه مـاه يک بارتشکيل جلسـه مـی دهـد، نصاب تدويرجلسات شورای اجرائيه با حضور حد اقل شش تن ازاعضای آن تکميـل وتصـاميم آن بـا اکثريـت آرای اعضـای حاضـر اتخـاذ می گردد.

وظايف شورای اجرائيه

مادهٔ سيزدهم:

شورای اجرائيه دارای وظـايف زيـر می باشد:

۱- ارائه پيشنهاد به شورای عـالی، وزارت های ذيربط مؤسسات دولتی و غير دولتی، مشارکت در برنامه ريزی، اجـراء وارزيـابی برنامـه هـا و فعاليت های بين المللی، منطقـوی و ملی يونسکو.

۲- پيگيری نظريات و پيشـنهادات دولت در مـورد اجـرای تصـاميم يونسکو که به شورای اجرائيه سپرده

کېږي.
۳- د عالي شوري د تصميمونو تطبيق.
۴- د عالي شوري د تصـــميمونو لـــه اجراء څخه څارنه.
۵- عالي شوري تـــه د کمېســـيون د برنامو او بودجې وړانديز.
٦- په سيمه ييزو کنفرانسونو کـــې د افغانستان د هيئت د غړو د ټاکلو پـــه باره کې د عالي شوري له رئيس ســـره همکاري.
۷- د محوله دندې د اجراء لپـــاره، د کمېسيون د دارالانشاء له کارکوونکو سره دايمي همکاري.

## همغږي

**څوارلسمه ماده:**

کمېسيون کولای شي په يونسکو کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت له دايمي استازي سره په همغـــږۍ کـــې، پـــه افغانستان کې دهغهٔ سازمان د ښوونيزو، روزنيزو او زده کړه ييـــزو پـــروژو او برنامو په اړه، معلومات ترلاسه کړي.

می شود.
۳- تطبيق تصاميم شورای عالی.
۴- نظارت از اجرای تصاميم شورای عالی.
۵- پيشنهاد برنامـــه هـــا و بودجـــهٔ کميسيون به شورای عالی.
٦- همکاری بـــا رئـــيس شـــورای عـــالی در بـــارهٔ تعيـــين اعضـــای هيئت افغانســـــتان در کنفرانس های منطقوی.
۷- همکـــاری دايمـــی باکارکنـــان دارالانشای کميـــسيون، جهت اجرای وظايف محوله.

## هماهنگی

**مادهٔ چهاردهم:**

کميسيون می تواند درهمـــاهنگی بـــا نمايندگی دايمی جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان در يونســـکو، پيرامـــون پروژه ها وبرنامه های تعليمی، تربيتی و آموزشـــی آن ســـازمان درافغانســـتان معلومات حاصل نمايد.

## د دارالانشاء تشکیلات

**پنځلسمه ماده:**

د کمېسیون دارالانشاء، د لاندې تشکیلاتو لرونکې ده:

۱- سکرتر جنرال.

۲- د برنامو د چارو آمریت.

۳- د فرهنګي چارو مدیریت.

۴- د ټولنیزو او انساني علومو مدیریت.

۵- د ساینس او تکنالوژۍ مدیریت.

٦- د ښوونې او روزنې مدیریت.

۷- د عامه اړیکو مدیریت.

۸- د همغږۍ(پارټسپېشن) مدیریت.

۹- اداري مدیریت.

## د دارالانشاء دندې

**شپاړسمه ماده:**

د کمېسیون دارالانشاء د لاندې دندو لرونکې ده:

۱- د کمېسیون د کلنیو فعالیتونو د رپوټ برابرول او تدوین.

۲- د وزارتونو او اړوندو سکتوري ادارو ترمنځ همغږۍ او د کمېسیون د

## تشکیلات دارالانشاء

**مادۀ پانزدهم:**

دارالانشای کمیسیون، دارای تشکیلات زیر می باشد:

۱- سکرترجنرال.

۲- آمریت امور برنامه ها.

۳- مدیریت امور فرهنگی.

۴- مدیریت علوم اجتماعی و انسانی.

۵- مدیریت ساینس و تکنالوژی.

٦- مدیریت تعلیم و تربیه.

۷- مدیریت ارتباطات عامه.

۸- مدیریت هماهنگی (پارتسپیشن).

۹- مدیریت اداری.

## وظایف دارالانشاء

**مادۀ شانزدهم:**

دارالانشای کمیسیون دارای وظایف زیر می باشد:

۱- تهیه و تدوین گزارش فعالیت های سالانۀ کمیسیون.

۲- هماهنگی میان وزارت ها وادارات سکتوری ذیربط و انسجام فعالیت های

فعالیتونو انسجام.

۳- په سکتوري وزارتونو کې د یونسکو د برنامو د اجراء کولو پیگیري او په دې اړه د لازمو سندونو او مدارکو د برابرولو لپاره همکاري او له هغو څخه څارنه.

۴- د ښوونې او روزنې، فرهنگ او نورو ټولنیزو علومو په برخو کې د کمېسیون او نورو مرکزونو، مؤسسو او دولتي او نا دولتي ادارو ترمنځ د اړیکې تأمین او د لازمو سلامشورو او همغږۍ ترسره کول.

۵- د یونسکو په فعالیتونو پورې د اړوندو برنامو او گډو مطالعاتو په اجراء کې د همکارۍ په منظور، د غړو هېوادونو له نورو مماثلو کمېسیونونو په ځانگړي ډول د سیمې له هېوادونو سره د اړیکو اسانول او پراخول.

۶- د هغو برنامو د تطبیق لپاره، له یونسکو سره د منظمې او مستمرې اړیکې ساتل.

۷- یونسکو ته د افغانستان د دایمي استازي له لارې د کمېسیون په واسطه

کمیسیون.

۳- پیگیری اجرای برنامه های یونسکو در وزارت های سکتوری و همکاری جهت تهیه اسناد و مدارک لازم در این مورد و نظارت از آن.

۴- تأمین رابطه میان کمیسیون و سایر مراکز، مؤسسات و ارگان های دولتی و غیر دولتی در بخش های تعلیم و تربیه، فرهنگ و سایر علوم اجتماعی و انجام مشورت ها و هماهنگی های لازم.

۵- تسهیل و توسعه ارتباطات با سایر کمیسیون های مماثل کشورهای عضو بخصوص کشورهای منطقه به منظورهمکاری در اجرای برنامه ها و مطالعات مشترک مربوط به فعالیت های یونسکو.

٦- برقراری ارتباط منظم و مستمر با یونسکو، جهت تطبیق برنامه های آن.

۷- تهیه وارائه گزارش ها پیرامون برنامه های تطبیق شده توسط کمیسیون

د تطبيق شوو برنامو په اړه د رپوټونو برابرول او وړاندې کول.

۸- يونسکو ته په کنفرانسونو، سيمينارونو يا ښوونيزو، فرهنگي او ټولنيزو برنامو کې له گډون څخه د رپوټ برابرول.

۹- د تصويب شوې بودجې د لگښت د مالي چارو او د صورت حسابونو تنظيم او په دې برخه کې د رپوټ وړاندې کول.

۱۰- په هېواد کې روزنيزو، علمي، فرهنگي مؤسسو، رسنيو او کتابتونونو ته د کتابونو او علمي او فرهنگي نشريو برابرول، ژباړل او خپرول او د هغو وېشل.

۱۱- د پروژو او برنامو تمويل او کمېسيون ته د هغو د وړاندې کولو په منظور، د يونسکو د مالي مرستو د جلبولو طرحه.

۱۲- د هغو وجوهو او اجناسو د لگښت د څرنگوالي ټاکل چې د يونسکو د فعاليتونو د پرمختگ لپاره د مرستې په نوم کمېسيون ته سپارل کېږي

از طريق نمايندهٔ دايمی افغانستان به يونسکو.

۸- تهيه گزارش از اشتراک در کنفرانس ها، سيمينارها يا برنامه های تعليمی، فرهنگی واجتماعی به يونسکو.

۹- تنظيم امورمالی وترتيب صورت حسابات مصرف بودجه تصويب شده و تهيه گزارش در زمينه.

۱۰- تهيه، ترجمه و انتشار کتب و نشريه های علمی و فرهنگی و توزيع آن به مؤسسات تربيتی، علمی، فرهنگی، رسانه ها و کتابخانه ها در کشور.

۱۱- طرح جلب کمک های مالی يونسکو به منظور تمويل پروژه ها و برنامه ها وارائه آن به کميسيون.

۱۲- تعيين چگونگی مصرف وجوه و اجناس که به عنوان مساعدت برای پيشرفت فعاليت های يونسکو به کميسيون سپرده می شود و نظارت از

او د هغو له لګښت څخه څارنه.

**د کمېسیون بودجه**

**اووه لسمه ماده:**

د کمېسیون بودجه له لاندې سرچینو څخه تمویلېږي:

۱- د پوهنې وزارت د مالي کال په بودجه کې پیشنهاد شوي وجوه.

۲- هغه وجوه چې د افغانستان دولت ته د یونسکو د تصویب شوو برنامو او پروژود اجراء لپاره ورکول کېږي.

۳- د دولتي او نا دولتي مؤسسو او بین المللي سازمانونو مرستې.

## دریم فصل
## وروستني حکمونه

**د استخدام معیار او شرایط**

**اتلسمه ماده:**

(۱) هغه شخص د کمېسیون د سکرتر جنرال په توګه ټاکل کېدای شي چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لاندې شرایطو لرونکی هم وي:

۱- په ښوونه او روزنه یا د بشري

مصرف آن.

**بودجه کمیسیون**

**مادۀ هفدهم:**

بودجه کمیسیون ازمنابع زیر تمویل می گردد:

۱- وجوه پیش بینی شده در بودجۀ سال مالی وزارت معارف.

۲- وجوهی که جهت اجرای برنامه ها و پروژه های تصویب شدۀ یونسکو به دولت افغانستان پرداخته می شود.

۳- کمک های مؤسسات دولتی و غیر دولتی و سازمان های بین المللی.

## فصل سوم
## احکام نهایی

**معیار و شرایط استخدام**

**مادۀ هجدهم:**

(۱) شخصی به حیث سکرترجنرال کمیسیون تعیین شده می تواند که علاوه برشرایط مندرج قانون کارکنان خدمات ملکی واجد شرایط زیر نیز باشد:

۱- داشتن سند تحصیلات عالی

علومو په رشتو کې لږ تر لږه د ماستری یا له هغې څخه په لوړه درجه د لوړو زده کړو د سند لرل.

۲- په دولتي یا نا دولتي ادارو کې لږ تر لږه د پنځو کلونو مودې د کاري تجربې لرل.

۳- له بین المللي ژبو څخه په یوې تسلط.

۴- د کمپیوټر برنامو ته لاس رسی.

(۲) هغه شخص د کمېسیون د سکرتر جنرال د مرستیال په توګه ټاکل کېدای شي چې دملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې پردرج شوو شرایطو برسېره، د لاندې شرایطو لرونکی هم وي:

۱- په ښوونه او روزنه یا د بشري علومو په رشتو کې لږ تر لږه د لیسانس یا له هغهٔ څخه په لوړه درجه د لوړو زده کړو د سند لرل.

۲- په دولتي یا نا دولتي ادارو کې لږ تر لږه د دریو کلونو مودې د کاري تجربې لرل.

۳- په انګلیسي ژبه تسلط.

حداقل به درجهٔ ماستری یا بالا تر ازآن در رشته های تعلیم و تربیه یا علوم بشری.

۲- داشتن تجربهٔ کاری حداقل مدت پنج سال در ادارات دولتی یا غیر دولتی.

۳- تسلط به یکی از زبان های بین المللی.

۴- دسترسی با برنامه های کمپیوتر.

(۲) شخصی به حیث معاون سکرتر جنرال تعیین شده می تواند که علاوه برشرایط مندرج قانون کارکنان خدمات ملکی واجد شرایط زیر نیز باشد:

۱- داشتن سند تحصیلات عالی حداقل به درجهٔ لیسانس یا بالا تر ازآن در رشته های تعلیم و تربیه و علوم بشری.

۲- داشتن تجربهٔ کاری حد اقل مدت سه سال در ادارات دولتی یا غیر دولتی.

۳- تسلط به زبان انگلیسی.

۴- د کمپیوتر له برنامو سره بلدتیا.

(۳) هغه شخص د کمېسیون د مسلکي مدیریتونو په برخه کې د مدیر په توګه ټاکل کېدای شي چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لاندې شرایطو لرونکی هم وي:

۱- په ښوونه او روزنه یا د بشري علومو په رشتو کې لږ تر لږه د لېسانس یا له هغه څخه په لوړه درجه د لوړو زده کړو د سند لرل.

۲- په دولتي یا نا دولتي ادارو کې لږ تر لږه د دوو کلونو مودې د کاري تجربې لرل.

۳- په انګلیسي ژبه تسلط.

(۴) هغه شخص د کمېسیون د مسلکي مدیریتونو د مسلکي غړي په توګه ټاکل کېدای شي چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لاندې شرایطو لرونکی هم وي:

۱- په اړوندو رشتو کې لږ تر لږه د لېسانس یا له هغه څخه په لوړه درجه د

۴- اشنایی با برنامه های کمپیوتر.

(۳) شخصی به حیث مدیر دربخش مدیریت های مسلکی کمیسیون تعیین شده می تواند که علاوه برشرایط مندرج قانون کارکنان خدمات ملکی واجد شرایط زیر نیزباشد:

۱- داشتن سند تحصیلات عالی به درجهٔ لیسانس یا بالا تر ازآن در رشته های تعلیم وتربیه و علوم بشری.

۲- داشتن تجربه کاری حداقل مدت دو سال در ادارات دولتی یا غیر دولتی.

۳- تسلط به زبان انگلیسی.

(۴) شخصی به حیث عضو مسلکی مدیریت های مسلکی کمیسیون تعیین شده می تواند که علاوه برشرایط مندرج قانون کارکنان خدمات ملکی واجد شرایط زیر نیز باشد:

۱- داشتن سند تحصیلات عالی به درجه لیسانس یا بالاتر ازآن،

لوړو زده کړو د سند لرل.

۲- په دولتي یا نا دولتي ادارو کې لږ تر لږه د یوه کال مودې د کاري تجربې لرل.

۳- په انگلیسي ژبه تسلط.

انفاذ

نولسمه ماده:

دغه اساسنامه د تصویب له نېټې څخه نافذه او په رسمې جریده کې دې خپره شي.

در رشته های مربوطه.

۲- داشتن تجربه کاری حد اقل مدت یک سال در ادارات دولتی یا غیر دولتی.

۳- آشنایی به زبان انگلیسی.

انفاذ

مادهٔ نزدهم:

این اساسنامه از تاریخ تصویب نافذ و درجریدهٔ رسمی نشر گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :                (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:                (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

## Unesco National Commission Charter in Afghanistan

**Date:1th August .2016**
**ISSUE NO :(1218)**